مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۳/۰۲/۲۱

# مور خپلې مورنۍ ژبې ته څه کړې دي؟

## (د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ)




دا دی بیا د فبرورۍ میاشتې یوویشتمه نېټه په رانږدې کېدو ده او د مورنۍ ژبې د نړیوالې ورځې د لمانځلو وخت را رسېږي. د مورنۍ ژبې د ورځې د رارسېدو او لمانځلو په پار بیا هم لکه تل شعارونه، شعرونه، مقالې او... لیکل کېږي او هرڅوک د یو څو لنډو ورځو لپاره په ډېر خوند او رنګ سره د دې ورځې د اهمیت په باب خبرې کوي، غوړې کوي، شعارونه ـ غړونه اوچتوي او ښایې ځینې وعدې به کوي چې موږ به دا کوو او موږ به هغه کوو؛ خو د حساب او کار خبره به یا هېڅوک ونه کړي او که یې وکړي هم، د ګوتو په شمېر خلک به وي.

زما له نظره د مورنۍ ژبې په باب د حساب او کار خبره دا ده چې:

هر هغه څوک چې مورنۍ ژبې ته د خدمت هیله کړې وه او اوس هم د خدمت هیله لري، یوازې دې د مورنۍ ژبې لپاره په تېر یوه کال کې د خپل ترسره کړي کار په باب لنډ رپوټ وړاندې کړي چې چا په دې تېر یوه کال کې خپلې مورنۍ ژبې ته څه ډول او څومره کار کړی دی؟

د پاسنیو خبرو په رڼا کې هرڅوک کولا شي ما وپوښتي چې تا په دې تېر یوه کال کې څه کړي دي، زه به په لنډ ډول ووایم چې:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ــ په تېر یوه کال کې ما په برېښنايي خپرونو کې یوسلواته اویا (۱۷۸) مطالب (شعرونه، مقالې، کتابونه) لیکلي او خپاره کړي دي چې د هغو په ډله کې د:

ــ کورونايي لنډۍ،

ــ د تللو یادونه، دویم ټوک،

ــ د افغانستان پر ماشوانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي څونامې،

ــ ژوندي یادونه، دویم ټوک.

تر سرلیکونو څلور ټوکه کتابونه هم شامل دي.

زما يادې مقالې، شعرونه او کتابونه په لاندې لینک کې لوستلای او لیدلای شئ:

http://www.afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95

د هغه تر څنګه مې د «افغان جرمن پورټال» د لیکني هیأت د غړي په توګه په سلهاو مقالې ایډت او پرلیکه کړې دي، چې ډېره سلنه یې زما په مورنۍ ژبې پښتو لیکل شوې دي.

«د افغانستان لوی قاموس» د بشپړولو د کار په ترڅ کې مې، په تېر یوه کال کې تر پنځه زره (۵۰۰۰) ډېر دري لغتونه په پښتو ژبه باندې ژباړلي دي،

ګڼو افغان فرهنګیانو سره مې فرهنګي اړیکې ټینګې کړي او له هغو سره مې د مطالبو په سمونه کې مشورې کړې دي.

او...

که مورنۍ ژبې ته د خدمت اصول دا وي چې ژبه باید علمي شي، ژبه باید سیاسي شي ژبه باید اقتصادي شي، ژبه باید د فرهنګ لوړو پوړیو ته په مثبت علمي کار سره ورجګه کړای شي؛ مورنۍ ژبې ته د خدمت پلویان او شعار ورکونکي دې په یادو برخو کې د خپل ترسره کړي کار لنډه یادونه وکړي چې په کومه برخه کې یې څه ډول او کوم کارونه ترسره کړي دي او چېرې یې خپاره کړي؟

دا مقاله مې د دویم ځل لپاره لا له نظره نه وه تېره کړې، چې مورنۍ ژبې ته د خدمت د یو ریښتیني قهرمان احمدولي اڅکزي دا پوست مې له نظره تېر شو چې په هغه کې د مورنۍ ژبې په باب د ده ځیني وړاندیزونه لیکل شوي وو، هلته مې ولوستل چې زما او د ښاغلي اڅکزي نظریات تر ډېره بریده یو شان دي. دا د احمد ولي اڅکزي د وړاندیز بشپړ متن دی:

«د مثبتې سیالۍ لپاره یو وړاندیز
راتلونکې یکشنبې #د_مورنۍ_ژبې_نړیواله_ورځ لمانځل کیږي. زما وړاندیز به دا وي چې له دې وروسته موږ تاسو دغه ورځ په داسې یوه لاره ولمانځو، چې د تېر یو کال هغو هلو ځلو حساب د خپل ځان سره وکړو، کوم چې مو د خپلې مورنۍ ژبې لپاره کړې دي. دا هلې ځلې د لاندېنیو مثالونو په شکل کېدلای شي:
- په خپله مورنۍ ژبه د یو کتاب لیکل، چاپول، ژباړل، په چاپ یا لیکلو کې یې مالي یا بل شانته مرسته کول
- په خپله مورنۍ ژبه په فلاني شمېر د کتابونو لوستل یا رانیول
- په خپله مورنۍ ژبه و خپلو یا نورو ماشومانو ته د لیک لوست ورزده کول
- په خپله مورنۍ ژبه ټول کال په خپل کاري ماحول، کورنۍ او بازار کې خبرې او لیک او لوست کول
- په خپله مورنۍ ژبه د ښوونځي جوړولو یا ښوونځیو کې د مورنۍ ژبې د تدریس لازمي کولو لپاره مبارزه او لابي کول او د سیاسي ډلو او ګوندونو په غونډو کې د دغې موضوع په وار وار مطرح کول او پر دغو ډلو فشار اچول
- په خپله مورنۍ ژبه پر انټرنیټیانو د درسي او روزنیزو موادو خپرول
- په خپله مورنۍ ژبه د کار کوونکو نورو ډلو، سازمانونو او اشخاصو سره مرسته کول
که تېر کال تاسو پورته یاد شوي یا ورته کارونه نه دي کړي، نو د راتلونکي کال لپاره یې پر ځان اجباري کړئ او بیا د مبارکۍ تر څنګ یو د بل سره رغنده سیالۍ سره وکړئ چې د خپلې مورنۍ ژبې لپاره مو په تېرو ۱۲ میاشتو کې څه کړي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دلته او هلته د مبارکۍ پیغام لیکل د مورنۍ ژبې دردونه نه دوا کوي.»

ما لا څو کاله مخکې د مورنۍ ژبې د ساتلو، پاللو او پرمختګ ځینو خواخوږو ته وړاندیز کړی و چې د مورنۍ ژبې په مناسبت خپل جوړېدونکي محفل ته دې داسې کسان راوغواړي چې هغوی د مورنۍ ژبې لپاره عملي کار کړی وي او ستاسو په محفل کې دې د مورنۍ ژبې ته د خپلو ترسره کړو کارونو په باب وغږېږي او مستند دې وښيي چې کوم کارونه یې ترسره کړي دی او څنګه کړي دي او چېرې یې خپاره کړي دي، په دغه کار سره به دوی لا تشویق شي او رپوټ ورکول به یې د نورو لپاره سرمشق شي.

زه هر کال د مورنۍ ژبې د ورځې لمانځلو ته یو څه لیکم او د مورنۍ ژبې د ورځې (فبروري یوویشتمه) په ورځ یې خپروم، دلته به د تېرو کلونو له مقالو څخه یو څو پرګرافونه راواخلم، خو په پیل کې د مورنۍ ژبې په باب د لطیف لالا (ډوکتور لطیف بهاند) یو څو تلپاتې جملې:

**«د ژبې په اړه، د لوړو، خیالي او ښکلو شعارونو تر ویلو مخکې، راځئ هر یو له ځانه وپوښتو، مونږ خپله، خپلې ژبې ته څه کړي دي او نور څه کولای شو؟**

**ژبه، باید بډایه شي، ژبه باید علمي شي، ژبه باید اقتصادي شي، ژبه باید سیاسي شي، ژبه باید د فرهنګ په ګانو، وګاڼل شي، ژبه باید له لافو او بې ځایه ستاینو، وژغورل شي.»**

ژبه د انسان د اوږدو تجربو ټولګه ده. څوک چې ژبې ته په کم ارزۍ ګوري او د ژبې وییونو ته په ټیټه سترګه ګوري، په حقیقت کې د بشر تاریخي ودې ته ارزښت نه ورکوي. دا باید په یاد وساتل شي چې له ژبې سره ساده او سطحي چلن، په اصل کې له انسان سره هماغسې چلن دی. ژبه د لسګونو زرو لغاتو لښکر دی چې وروسته له ډېرو کړاوونو او تجربو برابر شوی دی او دې د کار وړ لښکر ته باید درناوی وشي، ځکه چې هر چېرې یې کارولی شئ. څوک چې د ماناوو دې لښکر ته ارزښت نه ورکوي او یا په درنه نه ورته ګوري، هغوی د بشریت د اوږدو - اوږدو مودو تجربې بې ارزښته ګڼي.

که حقیت ته ځیر شو، ژبه په اصل کې بېرته انسان ته، د ده د باندني چاپېریال ژباړه ده او باندني چاپېریال ته د ده ورژباړل دي. ژبه د انسان او فزیکي - ټولنیز چاپېریال په منځ کې د اړیکو وسیله ده.

ژبه یوه بهانده، خوځنده او د بدلېدو په حال کې پدیده ده، که کار او پاملرنه ورته وشوه، خوځېدونکې او غني کېدونکې به وي او که کرار لاس تر زنې ورته کینو، له تلو او خوځیدو لوېږي او د مرګ دایرې ته ورننوزي.

هر څومره چې ژبې په پوهې، مالوماتو او فنونو باندې سمبال شوې وي، همغومره غني او د نړۍ په اسرارو خبرې او پوه وي؛ په همدې سبب علمي ژبې ګڼل کېږي او ویونکي یې همغومره پوه او د نړۍ په پوهېدنه باندې برلاسي وي.

**مورنۍ ژبه یوه ونه وګڼئ چې بېلابیلې څانګې او په زرګونو، لکونو او لا میلیونونه پاڼې یا لغتونه لري، دا ونه که اوبه نه شي، که ونه پالل شي؛ نو څنګه هیله کولای شئ چې د دې ونې پاڼې زېړې نه شي، ونه رژېږي او ونه زړه او پوده نه شي.**

زما مورنۍ ژبه پښتو به، زما د دننني او باندي جهان ژباړه په بشپړ ډول نه شي کولای، خو څنګه چې ما د خپلې مور غېږ په همدې ژبه اورېدلې دی، لومړني توري او ویېونه مې په همدې ژبه اورېدلي دي، د مینې لومړنۍ غږ مې په همدې ژبه اورېدلی دی؛ لیکل په همدې ژبه کوم، او تر ټولو ژبو ډېر، له دې ژبې سره پاتې شوی یم؛ ځکه نه شلېدونکی عاطفي اړیکې ورسره لرم او د مور په څېر راته ګرانه ده.

تر هر څه مخکې د دې خبرې یادول اړین دي چې د مورنۍ ژبې د ورځې لمانځنه یوه تفریح او وخت تېرونه نه ده. دلته یا د نړۍ په هره بله برخه کې چې د مورنۍ ژبې ورځ لمانځل کېږي، اصلي موخه یې د خپلې مورنۍ ژبې د بقا او غنا له پاره مبارزه او هلې ځلې دي.

«د ملګرو ملتونو، د یونسکو اداري له خوا، د مورنۍ ژبې د لمانځنې د نورو موخو تر څنګ، یوه اساسي موخه دا ده چې د نړۍ چارواکي او فرهنګیان، په دې خبر کړي چې:

هر ماشوم، باید په خپله مورنۍ ژبه زده کړې وکړي.»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ظاهراً د پښتنو په واکدارۍ کې خپله ژبه (پښتو مورنۍ ژبه) ورنه غوڅه شوې ده. په خپل کور او خپل کلي کې، په خپل وطن او خپل واک؟ کې له پښتنو څخه په مورنۍ ژبه د زدکړو حق اخستل شوی دی. دا ډېره موده، د ديموکراسۍ په دايره کې، د پښتنو نوی نسل په خپله ژبه د زکړو حق نه لري.

زموږ په وطن او ټولنه کې د جګړې اور او وير، په لسګونو ځوناميګانې رامنځته کړې او بې شميره غميزې يې په ميراث پرېښې دي؛ داسې چې زموږ څو نسلونه يې د اور خوراک کړل او هغه چې د دې ځونامي ګانو له مرګونو څپو څخه نيم ژواندي پاتې دي، له بيلابيلو ستونزو سره لاس ګريوان دي. د جګړې او له جګړې د را زيږيدلو ځونامي ګانو د زور او تاو په وجه يو شمير وطنوالو خپل کلي کورونه، نغري، هديرې او هر څه پر ځای پرېښودل، بهر ته يې يوازې د سر د خلاصون په تمه مخه کړه.

تللي خلک په نورو ملکونو کې له رنګارنګ ستونزو سره مخ شول، چې تر ټولو لويه غميزه او ستونزه يې د نورو ټولنو د کلتورونو تر فشار لاندې او ډير ځلې د کورنيو د مشرانو د بې غورۍ په وجه د مورنۍ ژبې او په عام ډول د خپل کلتور د ډيرو برخو له لاسه ورکول دي.

د بهر ميشتو افغانانو له ژوند نه چې کوم ښکلی انځور دننه په افغانستان کې د خلکو د ذهن په ګالري کې رسم شوی دی، دا سم او ښکلی نه دی، نه يې منفي اړخ سم دی او نه يې مثبته خوا سمه ښودل شوې. ژوند په هر ځای او هره ټولنه کې چې وي، منفي او مثبت اړخونه لري او زموږ افغانانو د ناکامۍ يو دليل دا دی چې هر چيرې او په هر څه کې ډير اِفراط او تفريط کوي.

په پرمخ تللو هيوادونو کې ژوند رنګينۍ لري، خو ستونزې يې هم ډيرې او چاقې دي. په هغو ټولنو کې د اِنټګريشن (integration) يا په ټولنه کې جذبيدل او د هغو له قوانينو سره ځان برابرول، لږې نه، ښې ډيرې ستونزې لري؛ هغه هم يوه شرقي او د بيلې عقيدې درلودونکي انسان ته. په افغانستان غوندې يو چاپيريال کې زيږيدلي، را لوی شوي انسان ته او بيا په اروپا غوندې يوې ټولنه کې ټول عمر ژوند کول، داسې يوه بوټي ته ورته وګڼئ چې له ګلانو او رنګينيو نه يې ازغي او بد رنګي زښته ډيره ده.

په داسې ټولنو کې زيږيدلی او زيږيدونکي نسل ته که مشران پام و نه کړي، هماغسې لويږي لکه د هغې ټولنې وګړي او دا نوي ورغلي خلک تر څو چې ځان له هغې ټولنې او د هغو له قوانينو سره جوړوي، يا د ليونتوب پولې ته وررسيدلی وي او يا به هم دومره وخت وربانديې تير وي چې نور به د کهولت خزان وهلي بڼ ته ور ننوتی وي.

د مورنۍ ژبې په باب زما په ليکنو کې د همدغو ترخو واقعيتونو په نظر کې نيولو سره کوم تصوير چې زه له افغانستان نه د باندې د افغان ماشومانو او کوچنيانو د روزنې، مورنۍ ژبې د زدکړې، د فرهنګ د ساتلو او د کوچنيانو د ادبياتو په برخه کې ما وړاندې کړی دی، همدا اوس وايم چې منفي اړخ يې ډير دی. ما دې څوک د ډير خوشبين او ډير بد بين په تور نه رنګووي، دا يو تريخ واقعيت دی او لکه د سقراط جام، اوس افغانانو ته ور په برخه دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ